
## څه وکړم که چیرې زه کمپیوټر ته اړتیا ولرم؟

تاسو کولی شی چې د اړین انترنت Internet Essentials، د ارزانه ارتباط پروګرام Affordable Connectivity Program (ACP)، او کنګ کونټي د کتابتون سیستم King County Library System (KCLS) ته مراجعه وکړی او د کمپیوټر له خدماتو څخه ګټه واخلی.

## اړین انترنت Internet Essentials

که چیرې تاسو د اړین انترنت شرایطو ته وړ یاست نو کولی شی په میاشت کښی د ۱۰ ډالر په ورکولو سره انترنت تر لاسه کړی. همدارنګه، ایا تاسو پوهیږی چې د اړین انترنت اداره ارزان بیه کمپیوټرونه هم لري؟ د ویپانې ته ورشی، www.internetessentials.com او لاربښونې یې تعقیب کړی، دا ویبپانه په ژوندی بڼه د خبرو اترو(Live Chat) ځانګړتیا هم لری،نو تاسو د دی پروګرام په اړه له دوی څخه هر ډول پوښتنې کولی شی.




یو ځل چې تاسو د اړین انترنت پیرودونکی شوی، نو تاسو به وکولی شی چې نوی ډیل لپټاپ کمپیوټر په لاندی ځانګړتیاوو په ۱۴۹$+ مالیه ترلاسه کړی.

تاسو کولی چې د ویب پاڼې له طریقه خپل د ضرورت کمپیوټر راوغواړي او یوځی د یو کمپیوټر د ترلاسه کولو حق لری.

نوع: Dell Latitude 3120
سیستم: Window 11
هارد ډرایب: 64GB eMMC
کمره: لری یی
د کمپیوټر د اسکرین اندازه: ۱۱.۶ انچ
سافتویر: مایکروسافت

## د ارزان ارتباط پروګرام Affordable Connectivity Program (ACP)

د اړین انټرنټ Internet Essentials ویب پاڼې له لارې تاسو کولی شی چې د ارزانه ارتباط پروګرام (ACP) ته هم ننوځی یا لاسرسی پیدا کوی. د یاد پروګرام ویپاڼه ته ورشی www.affordableconnectivity.gov لارښونی تعقیب کړی او یا هم د دی شمیری ۸۷۷۳۸۴۲۵۷۵ سره په اړیکه کښی شی. دا پروګرام د ټیټ عاید لرونکو کورنیو لپاره په میاشت کی تر ۳۰ ډالرو پوری د انټرنټ خدمات چمتو کوی. وړ کورني کولی شی چې د یو ځل لپاره د لپ ټاپ، ډیسک ټاپ کمپیوټر او یا ټابلیټ د اخیستلو په موخه تر ۱۰۰ ډالره تخفیف تر لاسه کړی، که چیری دوی په مجموعی قیمت کښی له ۱۰ ډالرو نه ډیر او ۵۰ دالرو نه کمه ونډه واخلی.

د ACP پروګرام د هری کورنی لپاره د یوی میاشتنی د خدماتو تخفیف او د یوی وسیلی د اخیستلو تخفیف پوری محدود دی. د ACP او اړین انټرنټ Internet Essentials تخفیفونه یوځای کارول کیدای شی.

## د کنګ کاونټی کتابتون سیستم King County Library System (KCLS)

ستاسو د کینګ کونتی په سیمه ایز ځانګه کښی کمپیوټرونه شتون لری چې د کارولو لپاره وړیا دی. د دی سیستم ویپاڼه ده www.kvls.org . په یاد دفترونو کښی پرنټرونه، د چاپ ماشینونه، اسکنرونه او د فکس ماشینونه هم شتون لری. تاسو کولی شی چی هره اونی کی تر ۱۰ توری او سپینی پاڼی او ۳ رنګه پاڼی په وړیا ډول چاپ کړی. که چیری اضافی پاڼی غواړی چی چاپ کړی باید د لګښت پیسی یی ورکړی. کله چی یاد دفتر ته ورځی کولی شی چی هالته شته کمپیوتر وکاروی او یا هم د کمپیوتر د کارولو لپاره وخت ونیسی.

لومړی تاسو اړتیا لری چی د یاد کتابتون کارت تر لاسه کړی، دا کارت د کینګ کونټی تولو اوسیدونکیو ته لپاره وړیا ده. د سیاټل په سیمه کښی ډیر ښارونه د کینګ کونټی برخه ده. کولی شی چی د کارت د ترلاسه کولو لپاره انلاین او یا هم په حضوری شکل غوښتنه وکړی. د کارت لپاره خپل یو قطعه عکس او د کور د ادرس ثبوت له ځانه سره راوړی.

که تاسو پوښتنی لری، یا یادو سرچینو ته د لاسرسی او یا هم د فرمو په ډکولو کښی مرستی ته اړتیا لری، مهربانی وکړی مونږ سره په د ادرس info@afghanadvantge.org بریښنالیک واستوی.